مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

رنگریز ۲۰۲۱/۰۱/۰۵

# سینده یـاغـی سـیـنـده

## د کـونـړ سـیـنـده!

اې! د پـیـچ د غـرونـو د شـیـګـل او د اسمار سینده
ځـومره په غـړمبا، غړمبا او ځومره په تلوار سینده

زه دي لامـبـوزنـه یـم او زه دي جـالـه وانـه یم
زه درخـانـی ځـنـګ تـه د بـاتـور ولس روانه یم

اې! د ښـایـسـتـونـو، ښـکـلاګـانـو او بـرښـنـا سینده
یـوه ورځـی بـه راولی جـونـګـړو تـه رڼا سینده

ځاځکی، ځـاځـکی تـنـدر یی شیبه، شیبه جګړ سینده
سینده، یاغي سینده یـاغـی سـیـنـده د کـونـړ سـیـنـده

پوه شومه ملاتړ شوې د ځوانانو د غورځنګ سینده
ځـپ ځـپـانـده اوسـه د درځو غـرور او ننګ سینده


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ